اکادمیسین رشاد

لولپه پېغله

۱۳۷٤

www.sikaraam.com

لولپه پیغله

(چي د ۱۳۷۳ هـ ش کال په دوبي کي يې د
ملګرو ملتو د دفتر مخي ته په نوي ډهلي کي د
احتجاج په توګه ځان ته اور واچاوه .)

ا کاډمیسین پوهاند رشاد

۱۳۷٤

www.sikaraam.com

اهدا :

د لوڅه پیغلې ویرجنی مور ته .

د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم	:	لوڅه پیغله
لیکوال	:	اکادمیسین پوهاند عبدالشکور رشاد
خپرونکی	:	د آزاد افغانستان د لیکوالو ټولنه
د وفا جریدې د خپرونو		
پرله پسې نومره	:	
تیراژ	:	۵۰۰
د چاپ کال	:	۱۳۷٤ مطابق ۱۹۹۵ ع
د چاپ ځای	:	ټاپ پرنټرز – پیښور
مهتمم	:	لعل پاچا ازمون
کمپوزر	:	سید حسین پاچا

رسمونه د : پوهنمل محمد اکبر سلام

www.sikaraam.com

بسم الله الرحمن الرحیم

مهاجره پیغله وایي :

موري څه وکړم ، ناکام دی بیا ورځمه

د ملګرو ملتونو اداري ته

نه ورځ ګوري ، نه شپه ګوري دا څو میاشتې

سپك پاسك ، لڅر ګوپال راځي کېږي ته (۱)

هم خروښیزي ، هم خښمیزي ، هم غړومبیزي

هر ګړی راته ولاړ وي دروازې ته

کله وایي : اوس کالي درغورځومه

ګاهې وایي : اوس مو بیا یمه تالې ته

www.sikaraam.com

سپکې سپورې خوبې ته اروې په کور کې
زه له شرمه څخه وتای نه سم کوځې ته

له غیرته سي خولې را باندي ماتې
چې هر وار گورم د جَت گوپال جَولې ته

پردیسي ده ، بیکسي ده ، بیوسي ده
نادارېو گرگ را راچاوه اینې ته

پردی ملك دی ، سخته ورځ ده تنگدستي ده
پور نایابه ، مخ مو نه گرزي پیسې ته

بې دوا راته پرته یې دا څو میاشتی
هَك هَریان یو د اد کوپرهیز دانې ته

خدای پوهیږي چي خوز ژوند راپوري تریخ دی
کشکې ژر مو لوزه بوزي هدیرې ته

د پورو له منتونو څخه به خلاص سو
اړ به نه یو د بیدینو نذرانې ته

وایي : مرگ یوځای نخری بل ځای پردي کړي
رسیدلې ده خبر د مرگ پردې ته

چاره هم ته رسیدلې ده باور کړه
زړه مي چوي ، ساه راغلې ده وخولې ته

www.sikaraam.com

یا راوړم مدد معاش یا به ځان وژنم

په تش لاس به په ژوند رانه سم ادې ته

پخپل سر سره به سر د افغان جګ کړم

په جګ سر راځه مورکي هدیرې ته

*** *** ***

مور یې ورته وایي :

لوري ځه ، که به زما په دعا کیږي

ایلوونکې د یاغي باغي مراد وسې

لوري ځه ، ستاره دي وه د شنو زمریو

لوري ځه د شیرعلي په سپرکي اوسې

لوري ځه ، غیبي سپاره درسره مله وه

لوري ځه ، د لاس لکړه د ړندو سې

لوري ځه ، خنجر د زړو سې د بد خواهو

ځه ، نشتر د بدبینانو د لیمو سې

ځه زلیږ پر پاخه کنبت سي د بیرحمو

ورځه ، ټکه د ظالم د درمندو سې

ځه تروزمې سې د کنجوسو د سپوږمیو

ورځه تندره د بخیلو د لمرو سې

www.sikaraam.com

لوري څه ، الله دي ستا وي نګاوانه

سوبه ستا وه ، بری مومې ، برخه یوسې

* * *   * * *   * * *

مهاجره پیغله

د ملګروملتو په دفتر کې :

لسم وار دی چي راځم دې غمکدې ته

تا بند کړی دا شپږ میاشتي زموږ معاش دی

د څو میاشتو کراهه یې ده را باندي

دِ غم کور د ګوپالا غوندي اوباش دی

هره ورځ راته ولاړ ، پوچ و رد وایي

رښکي رښکي مو هَی هَی د آب قُماش دی

پوره ورو یو ، له خیلمي په تنګ کړي

هره ورځ مو ترمنځ شخړه ده ، پرخاش دی

څه تَوَرِي چي مو وو ، هغه مو خرڅ کړل

نالي مڅکه سوه ، بړستنه مو آکاش دی (۲)

له اړیو د وقار بندونه مات دي

له سختیو د تمکین کور تاش په تاش دی

www.sikaraam.com

که نغري مو ساړه کړي ناداری دي
په آهو سره مو تود د لوږې داش دی

په شپو شپو شامه نهر ، له ناتوانیه
د اجل لاره څارو ، د مرگ تلاش دی

چپه باد ده زموږ کښتۍ پسي اخیستې
د ملګرو ملتو د خولې باش باش دی

زه چي هره پلا راځم پر لیمو پښې ږدم
ستا جواب هغه کاسه ده هغه آش دی

انصاف تللی ، غور نسته ، زړسوی ورك سو
تبلیغات په خرورو ، داد په خشخاش دی

هی افسوس د افغانانو خواره ژونده !
چي دي سپکي ته د هر گادړ تالاش دی

*** *** ***

د ملګرو ملتو مامور وایي :

ولې نه ځې مهاجر خپلو ملکو ته ؟
ولې ناست دي لا د نورو خیراتو ته

اوس خو روس له ملکه ووت ، روسپال مات سول
دروازې د ملك دي خلاصي د دوی تلو ته

www.sikaraam.com

چي دوی غوښته ، قدرت ورغی هغو ته
اوس يې ولي ډمارلي دي لا سترګي

د ملګرو ملتونو ځو پيسو ته
نه شرميږي دا د خواست ګولو ته ناست دي

سترګې کښته اچولي ، ګوري پښو ته
رانجه کاندي د هغو د پلو ګرزونه

چي يې سي توزني هيلي ګرمو ته
ماجِت ګرم ، بندار خوږ ، روزي بې زياره

پرځه ولاړ سي ګدايان خپلو کورو ته ؟
ته به وايې پر اينه يې تريخی نسته

لاس د فقر يې نيولی دی پردو ته
وير دی دا چي همت ننووت په مځکه

واويلا چي غيرت وتښ اسمانو ته
هی افسوس چي شرم ولاړ له افغانانو

آخ ارمان چي حيا شا کړه پښتنو ته
دا ګوله د بې ننګۍ چي افغانان خوري

وبې نه خوري که يې واچوې وسپو ته

www.sikaraam.com

ړانده کړي يې ليمه بې غيرتۍ دي

کاڼه کړي يې غوږونه دي پيغرو ته

تُوپر دا رنګه روزي لعنت پر هغو

چي پرانستي يې دي خولې د خواست ګولو ته

***	***	***

مهاجره پيغله :

مهاجره سره وشنه کيده له ښښمه

په مثال د زخمي مار به تاويدله

هر پيغور ښخه چاړه وه په اينه کي

هر پيټي سانګه په سينه ورچخيدله

هرانَك د هلايلو زهرو غوړپ و

چي معده به يې له تاوه شوړيدله

هر رشخند يې د دوزخ د اور لمبه وه

په ککره کي ماغزه په ايشيدله

مهاجري ويل : چَپ ، کپوره بس کړه

نشتر مه وروړه له شنوختته ډکو زړو ته

ولي موږ وراچوې د فتنو سين ته ؟

ولي موږ پوري وهې خوني سيلو ته

www.sikaraam.com

ولی موز ارتاووې د تورو ځرخ ته ؟
ولي موږ ورتېل وهې سرو تنورو ته ؟
ولي نه ګوري د ملك جاري ناورین ته ؟
ولي موږ ګوزاروې غوړو لمبو ته ؟
بده دا ده چي ږا زموږ سوځندو اوښکو
لاره نه موندله ستاسي سختو زړو ته
نه ثمر پیدا که زموږ د صبر وني
نه اثر ورکړ دردونو زموږ آهو ته
نه ښراوو مو پر جوش راوستئ قهر
نه دعاوو مو لار پرانسته رحمو ته
له غیرته مي په زړه چړې چخیږي
چي له خپلو په ورتې ورتې ژاړم پردو ته
که په ملك کي کراري وای ، آرامي وای
موږ به تلو په شوق په ویاړ خپلو کورو ته
موږ به څه غوښته په دې تاوده ډهلي کي
چي يې نغم دی وتلی دوږخو ته
موږ به ولي پردیسي په زار ګاللې ؟
موږ به ولي توسیدو د خواست ګولو ته ؟

www.sikaraam.com

موږ به ولي منتونه وړل د خلکو ؟

موږ به ولي ناست وو ، ستاسي دروازو ته ؟

موږ به ولي په شپو شپو لوږې ګاللې ؟

موږ به ولي اړيدو وَ درويزو ته ؟

آخ ارمان چې هلته ژوبلي دي او وژلي

واخ ، ايله وزې ليوان دي وَ رمو ته

څه خير و ، چي قفس بې ترې سازيږي

مرغه خوار چي په مابَت کتل منباخلو ته

غم دی دا چي چغالان دي پکښې ننبتي

کوم دامونه چي موږ ايښي وو زمرو ته

په تلاښ د خضر تلو ، پر خرس مو شپه سوه

د حيوان د اوبو ځوب بوتلو تيارو ته

د کوفې په نيت رهي وو ، کربلا ته

د حسين پرځای سوو ايل د شَمر ملو ته

موږ ول دا يه د فاران د رونا څرک وي

نصيب بوتلو د نمرود د اور لمبو ته

موږ ول دا يه د موسی د لاس امسا وي

لاس مو ور وړ ، داپي مارانو خولو ته

www.sikaraam.com

موږ ول دا به اوس مدار د مشتري وي

په مریخ پسي زحل راغی جلوو ته

موږ له رَوُو بيريدو افسوس افسوس دی

بدنصيب ورکړو په لاس آدم خورو ته

د نغري له خندو ولويدو نغري ته

له بارانه مو پناه يووړه ناوو ته

له غالبوزو تښتيدو ، پر اژدر پيښ سوو

د طوفان له بيري ولاړو ګردابو ته

که پخوا وژلو روس او روسپالانو

اوس مو ناست دي مجاهد ورونه مرګو ته

د اولس د خلکو خون دی د چوغکي

د سړيو وژل لوبي دي هغو ته

دوی له پاره د چورونو ، چپاوونو

اچولي ټوپکونه دي اوږو ته

د آبونو ، د سرونو ، د مالونو

د ساتني امید نه سي دي ځلمو ته

بلکه دوی پخپله لاري دي نيولي

بلکه دوی لبخي راغستي دي داړو ته

www.sikaraam.com

د هفتو نهَر ليوان دي ، نور څه نه دي
دا د دين ټيکه داران پردو مالو ته
رهبران شيندي سکروټي پر باروتو
اخوندان پاشي پټرول د اور لمبو ته
دا نااهله ماڼوګان سوچ ليوني دي
کښتۍ بيايي جهاز تپو ګردابو ته
د قدرت هوس له سده دي ايستلي
زهر اچوي د شاتو وپيالو ته
دا ناولي بند په پيټ په پيغور نه دي
دا ښَيَلي ګوري نه ، دين وپښتو ته
بدرګې د قافلو پاخه ټګان دي
کاروانونه دي سپارلي خوني غلو ته
پروا نه لري که قام که ملك تپيږي
خو ور لوېږي دي روپۍ د دوی جيبو ته
زموږ خزان نه لري پای فتنې لا زېږي
انتظار عبث هوس دی بهارو ته
زموږ اوريځې اوروي ټکي پر کليو
زموږ بريښناوي مو اور اچوي ښارو ته

www.sikaraam.com

هره شپه توره تروږمۍ ده زموږ په ملك کي

هره ورځ تندري لاس اچوي وړانګو ته

دا مو حال دی د وطن بدبخت کپوره !

ښنګه ولاړ سو په دي بده ورځ کورو ته

زما قسم په هغه لوی او واکمن خدای دی

چي زمري يي احتياج کړي دي بيزو ته

تر ګريوان به دي په ورځ د محشر نيسم

چـــي مو تله ودريږي عملو ته

پورته پاڼ دی کښته پړانګ ، عجب ژوندون سو

خدايه ! مخ ته زمهرير ، شا دوږخو ته

اور دي واخلي زنده ګي چي د سپکتيا وي

مرګ پرده ده وبي آبو ژوندونو ته

زهر ښه دي ، نه عسل د کښتو سترګو

زندی‌ښه ده ، نه کږه غاړه غوښتو ته

پرهر ښه دی بي علاجه ، بي پټيه

نه اړي د منتونو ملهمو ته

تخته ښه ده ، نه چي تخت د پت په تللو

سر غوڅ ښه دی ، نه چي څوړ په عار تاجو ته

www.sikaraam.com

ووری‌ښه ده ، نه مانې د بې ارزښتو
سولې‌ښه ده نه سر ټیټې په احتیاج سپو ته
ما خو خوښه د مرګ خوا کړه خلکو واورئ
د ستۍ‌په شان وردانګم سرو لمبو ته (۳)

د ملګرو ملتو له ظلمه دایم
د ققنس په دود اور اچوم کالو ته

دا پیغام د لولپې خور افغانانو !
رسوئ د انسانانو وغوږو ته :

« د بشر د حق دعوې دي خوشې پوچې
شعبدې دي د سپیدلو تیر ایسنو ته »
*** *** ***

د لولپه پیغلې جنازه :

د تکبیر او د تهلیل په ازانګو کې
سیل د اوښکو جنازه وړه ښخیدو ته

د آهونو شرارې وې ، د سوز چیغې
د نامرادې لولپه پیغلې څنګو ته

دا شعار به په لوړ زغ وایه نیازمنو :
« موږ سپارو د پتې مړی پرښتو ته

www.sikaraam.com

موږ ایزدو د پټ ګوهر پخپل صدف کي
موږ پرېزدود ننګ جوهر د خدای رحمو ته
موږ په خاورو کي ساتو هغه اتله
چي د وياړ قصې بې پاته وي نسلو ته
چي همت به يې کعبه وي د پټ پالو
چي غيرت به يې قبله وي ننګيالو ته
چي کردار بې وي شهکار د قربانيو
چي ايثار به يې عنوان وي کارنامو ته
چي مغزي به يې جګيږي په ميړانه
چي سرونه بې کږيږي سربښندو ته
چي په سوز بې بلبلان وايي ستايني
چي په وياړ بې پښتهان راځي تلينو ته
چي بې ناز په اتلواله هر افغان کړي
د وطن تاريخ بې فخر په بيان کړي » (٤)

١٣٧٣ ش

www.sikaraam.com

لمن ليكونه :

۱ - گوپال ‹ گوپالا ‹ گوپال داس په هندوانو کي د نارينه نوم دی .

۲ - آکاش په هندي ژبه آسمان ته وايي ، د ډهلي راډيو چي آکاش واني بولي د آسماني ږغ معنا لري .

۳ - په هندوستان کي پخوا دود و ، چي هندوانۍ کونډي به له گران ميړه سره ځان سوځاوه ، دغه ښځه ستۍ بلله کيدله، د ستي کلمه د سوي سوځلي او لولپه په معنا په پښتو ادب کي راغلي ده ، ستۍ هم تلميحاً په پښتو ادب کي ستره ، عبدالقادر خان ختټك ويلي دي :

د مهجور تر زندگيه مرگ بهتر دی
که ستۍ ستيه کيږي نه ده گرمه

٤ - اَللّهُمَّ اغْفِرْلَهَا وَارْحَمْهَا وَتَجَاوَزْ عَنْهَا .

www.sikaraam.com

www.sikaraam.com

www.sikaraam.com

www.sikaraam.com